

## ستاسې ماشوم/ماشومه د وینې د سرپو ازموینې ته اړتیا لري که چېرې هغوي...

- ☐ د 1950 څخه مخکې جوړ شوي کور کې اوسېږي یا ورته په منظم ډول ورځي
- ☐ د 1978 څخه مخکې جوړ شوي کور کې اوسېږي یا ورته په منظم ډول ورځي چې په دې ورستیو کې پکې مرمت یا نوښت شوي یا روان وي
- ☐ په رضاعي پاملرنه کې اوسېږي
- ☐ یو دوست یا خور/ورور لري چې په وینه کې یې د سرپو کچه جګه وي
- ☐ داسې والدېن یا پاملرنه کوونکي لري چې د خپلې وظیفې په جریان کې یا د مشغولتیا په توګه د سرپو سره کار کوي
- ☐ د امریکا د متحده ایالاتو څخه د باندې هیواد څخه راغلې وي
- ☐ دودیزې درملنې یا کاسمیتیکس کاروي
- ☐ د اپیل هیلت/میډیکېډ (لاندې وګورئ) لخوا پوښښ شوي وي

## ایا په پورته کې مو په کومه بوکسه کې نښه لګولې؟

لاندې کارت ترینه جلا کړئ چې وایي "زما ماشوم/ماشومه د وینې د سرپو ازموینې ته اړتیا لري" او خپل ډاکټر ته یې د راتلونکي ملاقات په ترځ کې ورکړئ. د **خپل Medicaid وړاندې کوونکي څخه وړیا ازموینې** ترلاسه کړئ که ستاسې ماشوم/ماشومه د **Apple Health له لارې** بیمه شوی وي، حتی که ستاسې ماشوم/ماشومه د خطر نور فیکتورونه نه لري بیا هم.

## زما ماشوم/ماشومه د وینې د سرپو ازموینې ته اړتیا لري.

Public Health Seattle & King County

Washington State Department of Health

## ولې باید زما د ماشوم د سرپو لپاره ازموینه وشي؟

حتی د سرپو لږ مقدار هم ستاسې د ماشوم/ماشومې د ماغزو ودې ته زیان رسولی شي. که سرپ ستاسو د ماشوم/ماشومې بدن ته دننه شي، دا د هغوی لپاره مشکلوي چې زده کړه وکړي، پام یا تمرکز وساتي او په ښوونځي کې پرمختګ وکړي.

## په سرپو د ککړتیا علامې څه دي؟

زیاتره ماشومان چې په بدن کې سرپ لري ناروغ نه ښکاري یا د ناروغ په ډول عمل نه کوي. د وینې ازموینه د دې معلومولو یوازینۍ طریقه ده چې آیا ستاسې ماشوم/ماشومه په سرپو ککړ شوي.

## د سرپو د ککړتیا لاملونه څه دي؟

په زړو کورنو کې د سرپو دوړه او د رنګ ټکړې سربو ته د ښرګندتیا تر ټولو لوی سرچینو څخه دي. د سرپو دوړه د ماشومانو په لوبتکو او لاسونو پرېوتلی شي. کله چې هغوي خپلې لوبتکې یا لاسونه په خوله دننه کړي، هغوي سرپ هم دننه کړې. نور شیان چې په سرپو د ککړتیا لامل کېدای شي هغه دي:



خاوره ا و اوبه



وینایل، زړې لوبتکې، زیورات، او کیلیانې



د لاسو جوړ لوښي او پلیټونه



وارد شوي کاسمیټیکس او مسالې

د سرپو په اړه نور مالوماتو او خپل ګاونډ سرپو ته ښرګندتیا د خطر لیدلو لپاره، www.doh.wa.gov/lead وګورئ.

**وړاندې کوونکی: د ایالت DOHد سرپو د خطر فیکتور پوښتنلیک دا ماشوم مالوم کړی چې سرپو ته د ښرګندتیا له یو څخه زیات فیکتورونه لري.**

**فیډرالي قانون صلاحیت ورکوي** چې ټول ماشومان چې د میډیکېډ سره ثبت دي اړتیا لري د 12 او 24 میاشتو په عمرونو کې یې د وینې د سرپو ازموینه وشي. هر هغه ماشوم/ماشومه چې عمر یې د 24 او 72 میاشتو تر مابین وي او د وینې د سرپو د سکرینېنګ پخوانی ریکارډ نلري د هغوي باید یوه ازموینه وشي.

**د زیاتو مالوماتو لپاره وګورئ : www.doh.wa.gov/lead**